مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سردار محمد همدرد

۲۰۱۸/۰۷/۰۹

# افغان کماندو، د وطن د ننګ او عزت ساتونکي

د وطن اوږدې غميزې يو شمېر افغانان دومره مايوسه کړل او داسې فکر کوي، چې دا وطن نه پردي جوړېدلو ته پرېږدي او نه په مونږ کې د هېواد جوړوني اراده سته.
د ولسمشر اشرف غني له واک سره سم يو څه د هېواد جوړوني هيلې را ژوندۍ سوې. د ولسمشر په سپېڅلې اراده او وطن دوستۍ د افغانستان فرد ـ فرد باور لري او داسې باور، چې دا بوډا د غازي امان الله خان او داود خان د ارمانونو لپاره کار کوي. له بده مرغه بايد و وايو، چې په واک کې يو شمېر دخيلې کړۍ له ولسمشر سره دا درونډ بار په صداقت او مسوولیت نه ادا کوي.
له بل لوري هغه کسان چې له واک څخه لرې سوي دي، ظلمونه يې کړي دي، خلک يې وژلي او بلند منزل او محلونه ئې جوړ کړي دي، يوه ورځ ئې هم د دې هېواد د جوړلو فکر نه دی کړی؛ بلکې دوکانداري ئې کړې ده، چې څنګه او څومره جمع کړم. هغو خلکو له اتلس کاله ناکام سياست وروسته هم له نړيوالې ټولنې سره مشترکه او ګډه ژبه پيدا نه کړه، چې هم خپلې ملي کتې په پام کې وساتي او هم له هغوی سره انډيوالي وکړي.
دا قانون ماتوونکي او ټوپکسالاران لا هم په دې ملت زړه نه سوځوي او ولسمشر کار ته نه پرېږدي. قومي او نفرتي سياست ته لاره هواروي، خو اوبه خړې او کبان په کې ونيسي. زه جلالتماب ولسمشر ته يوه مشوره ورکوم، چې ولسمشره! په تاريخ کې دې د دوطن په حق کې څو کربښې جوړې کړې دي. ټول ملت ستاسره دی او پر ټوپک سالارانو او قومي ټيکدارانو باندې لعنت وائي. ستا پر يوه غږ سره د دې ټوپک سالارانو په وړاندې يوازې دا نه چې زمونږ ملي سربازان ستا د حق چغې ته لبيک وايي؛ بلکې ملت دی هم په څنګ کې درېږي.
مونږ چې کله د کميت او کيفيت خبره کوو، دا په دې معنی ده، لکه يو پلار چې تر لسو ډېر زامن ولري، خو د پلار عزت ونه ساتي. بل پلار بيا يو زوی لري؛ خو هغه ئې روزلی وي، چې بيا هم د پلار او هم د خپلې ټولنې عزت کوي.
دلته هم داسې ده. افغان کماندو ځواکونه چې د کميت له اړخه کم او د کيفيت په لحاظ لوړ دي، په ډېره مېړانه او زړورتيا له دې طن څخه ساتنه کوی. زمونږ ټوله جګړه يوازې د دې وطن د سرلوړی، ټولنيز عدالت، د قانون حاکميت او ښې حکومتولۍ لپاره ده. هرڅوک چې له قانون څخه سرغړونه کوي، بايد خپله سزا وګوري.
په دې وروستيو کې د ټوپک سالارانو په واړندې ستاسو دريځ ولس ته ډېر اميدونه ورکړل. نه دا وطن څوک تجزيه کولای سي او نه بيا څوک پر مونږ ټوپک حاکمولی سي. نور دې خاموشه ملت هم دا فيصله کړې ده، چې هم به جګړه بندوي، هم به افغان طالبان د سولې مېز ته کښېنوي او وطن ته به سوله راولي او هم به د ټوپک سالارانو په وړاندې ټينګ درېږي.
د افغانستان پر ټولو با احساسه ولسونو باندې ږغ کوم، چې د افغانستان په ټولو ولايتونو کې پراخه غونډې جوړې کړئ. دا يوازې د ولسمشر او حکومت کار نه دی، چې وطن څنګه وژغورو، دا مسووليت ولس هم لري، چې د حق او باطل په جګړه کې د حق ملګرتيا وکړي، څو له دې اوږدې غميزې څخه ځان خلاص کړو.
زه د خپلو ټولو نظامي سرتېرو قربانيو ته په دوه لاسونو باندې سلامي کوم او په ځانګړې ډول په کماندو دومره وياړ کوم، چې دا هر ځل يې و وينم، زړه مې غواړي، چې په مخ يې ښکل کړم. په واقعيت کې هم چې د ښکلولو دي. با احساسه افغانان د دوی په ليدلو واقعي خوند اخلي. راځئ دا کار هم وکړو، چې د دغه قهرمانانو انځورونه په ښار کې په لويو لوحو باندې ولګوو او هم په غونډو کې د دوی د غيرتونو کيسې وکړو.
که زه دا و وايم، چې زمونږ افغان کماندويي ځواکونه د سيمې په کچه پرتله کېدای سي، هېڅ مبالغه به نه وي.
پر خپل جلالتماب ولسمشر بيا ږغ کوم، چې هم ملت درسره دی او هم ډېر پياوړي کماندويي ځواکونه لري. پر سياسي ګوندونو، مدني ټولنو، قومي شورى ګانو او علما کرامو باندې هم ږغ کوم، چې د حق اواز پورته، غاصبين، قانون ماتوونکي او د وخت د واک لېوني مهار کړئ او ورته و واياست چې بس دی، نور د دې ملت په سرنوشت لوبې مه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

کوئ. راځئ د سیاست، ولسواکۍ، بیان ازادۍ او ډیموکراسۍ په زور خپل ځان هدف ته ورسوئ. د ټوپک شپېلۍ او زور نه چلیږي.
د افغانستان معززو قومونو تاجک، هزاره، پښتون، پشه ئي، نورستاني او ګجر ټولو دا نا اهله مشران پېژندلي دي. نوی نسل باید دا زاړه بوتان مات او له نننۍ سیاست او عصره سم سیاسي ډګر ته را ووځي.
په دې تاریخي شېبو کې باید هرڅوک خپل مسوولیت ادا کړي. که دا مسوولیت ادا نه کړي، نه یې ګوند او نه یې ملکي ځوک مني. کنه نو بیا د مدني ټولنې په حیث د کوم عدالت او ښې حکومتولۍ خبرې کوي؟ خو همدغه یې ځای دی، چې باید ټول را ووځو او د حق او باطل په جګړه کې د حق ملتیا وکړو. د ولسمشر او د ملي وحدت حکومت ټینګه ملا وتړو.
حالات او شرایط هم دا ایجابوي، چې خلک نور د شعار او عمل تفکیک کولای سي. ملت نور د سټیج شعاري وعدې نه مني؛ بلکې په سپین مخ او ښکاره حساب غواړي. ما خو په دوه ولایتونو هلمند او نیمروز کې ماموریت وکړ. مظلوم او خاموشه ملت د ښې حکومتولۍ او ټولنیز عدالت غوښتنه کوي. د ګوتو په شمار څو غله د خپلو شخصي ګټو لپاره د ناروا ملګرتیا کوي.
اوس زمونږ په مخ کې دوه موضوعات پراته دي، چې لومړی راتلونکې پارلماني ټاکنې دي. ولس باید نور کمشن کاران د ملت اعظیم کور ته وانه ستوي. دویم دا چې ملت باید د ټوپک سالارانو په وړاندې کلک دریځ ولري. دا سمه ده، چې له حکومت څخه به ګیلې لري؛ خو دا په دې معنی نه دي، چې ملي ګټو ته زیان واړوو.
د افغان کماندو د لا پرمختګ په هیله!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ